د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 463**

( 11- 17 سلواغه 1403 هـ ش)

## کابل ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر سفر ته یوه کتنه



**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

## په دې ګڼه کې لولئ:


- کابل ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر سفر ته یوه کتنه ........ 3
- سپینې ماڼۍ ته د ټرمپ بیا ننوتل او د ایران پر وړاندې د بندیزونو د سختولو امکان ........ 3
- د امریکا تشه ډکول ........ 4
- لوی اقتصادي شریک ........ 4
- د افغانستان اسلامي امارت د اوبو د مدیریت ډیپلوماسي ........ 5
- د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو راتلونکې لپاره فرصتونه ........ 5
- پایله ........ 6
- وړاندیزونه ........ 7
- سرچینې ........ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## کابل ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر سفر ته یوه کتنه

**سریزه**

ایران د هغو هېوادونو له ډلې څخه و چې د اسلامي امارت د کار پیل راهیسې د دوي تر څنګ ولاړ و او له کابل سره يې په عملي کچه خپلې اړیکې وساتلې. په کابل کې د ایران د سفیر د پاتې کېدو سربېره، د افغانستان په ښارونو کې نور ایراني ډيپلوماتیک مرکزونه هم فعال وساتل شول. ایران په لنډه موده کې په تهران کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت تر څارنې لاندې ورکړ او څه موده وروسته يې د اسلامي امارت څو ډيپلوماتان د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د نویو استازو په توګه ومنل. په تېرو دریو کلونو کې، د اسلامي امارت د لوړ پوړو چارواکو لخوا ایران ته ګڼ شمیر سفرونه شوي دي، چې یوه لویه بېلګه يې د ۱۴۰۲ کال د لړم/عقرب په میاشت کې د ریاست الوزراء اقتصادي چارو مرستیال ملا عبدالغني برادر سفر و. له ایراني لوري افغانستان ته د هغو لوړ پوړو چارواکو سفرونه ډېر کم وو، تر دې چې تېره اونۍ کابل د هغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر د سفر شاهد و. هغه پوښتنې چې راپورته کيږي، د سید عباس عراقچي کابل د سفر لاملونه څه وو؟ او په اوسنیو شرایطو کې د دې اقدام لپاره د تهران اهداف څه دي؟ داسې ښکاري چې اوسنې حساس شرایط[1] په ځانګړي توګه سپینې ماڼۍ ته د ټرمپ بېرته راستنیدل، د دې سفر یو لوی عامل و. سربېره پردې، د اوبو سرچینو او د ایران د یو له سترو سوداګریزو شریکانو په توګه د افغانستان د ګډون، په څیر مسلو په اړه مشورې هم په کابل کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر د شتون نور دلیلونه ګڼل کیږي.

## سپینې ماڼۍ ته د ټرمپ بیا ننوتل او د ایران پر وړاندې د بندیزونو د سختولو امکان

هغه اصلي موضوع چې کابل ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر د سفر یو له لاملونو څخه کېدی شي د متحده ایالاتو د ولسمشر په توګه د ډونالډ ټرمپ بیا ټاکل کېدل دي. لکه څنګه چې په تېرو وختونو کې لیدل شوي او همدارنګه ټرمپ چې د راتلونکو څو کلونو لپاره يې ژمنه کړې، او د بهرنیو چارو یوه له اصلي پالیسیو څخه يې دا ده چې ایران نور هم کمزوری کړي. هغه څه چې دا ځل يې ایران تر ټولو ډېر ویرولی او د امریکا او اسراییلو په وړاندې يې بې کسه کړی، په منځنۍ ختیځ کې د ایران د متحدینو له منځه تلل دي، لکه د حزب الله کمزوري کېدل او د بشارالاسد د حکومت سقوط. چې په سیمه کې د ایران د دریځ کمزوري کېدو په معنی دی کوم چې په سیمه ییزو معادلو کې د دې هېواد د لا انزوا لامل شوی دی. د دې مسلو سربېره، سپینې ماڼۍ ته د ډونالډ ټرمپ بیرته راتګ او په ایران باندې د نورو بندیزونو لګولو ژمنې تهران[2] دې ته اړ کړ چې ډېر ختیځپاله ډيپلوماسي (لکه د روسیې سره پدې وروستیو کې لاسلیک شوی ستراتیژیک سند)[3] په خپل اجنډا کې ځای په ځای کړي. که څه هم د تهران اړیکې د روسیې او چین په څېر هېوادونو سره دمخه په لوړه کچه وې، خو ایران هڅه کوي چې په نورو برخو کې د ملاتړ په ترلاسه کولو سره د امریکا له بندیزونو څخه روغ ووځي. په عین حال کې یو له هغو هېوادونو څخه چې کولی شي له ایران سره د بندیزونو په مخنیوي



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کې مرسته وکړي افغانستان دی. که څه هم په تېرو دريو کلونو کې د افغانستان او ايران ترمنځ مخ په زياتېدونکو اړیکو ښه پرمختګ کړی دی بیا هم تهران هڅه کوي چې کابل ته د خپل بهرنيو چارو وزير په ليږلو سره له کابل سره اړيکې ستراتيژيکې کچې ته لوړې کړي. تهران وغوښتل چې کابل ته د خپل بهرنيو چارو وزير په ليږلو سره د افغانستان وضعيت وڅېړي ترڅو د امريکا لخوا د نورو بنديزونو له امله د کورني وضعيت د خرابېدو په صورت کې په افغانستان باندې د خپل تکيې کچه له نږدې وارزوي.

## د امريکا تشه ډکول

يو بل لامل چې د ايران د بهرنيو چارو وزير يې کابل ته راوستی دی هغه استثنایی فرصت دی چې د ايران لپاره رامينځته شوی دی. که څه هم مخکې داسې فکر کېده چې ټرمپ به د افغانستان په اړه د پخواني حکومت پاليسي ته دوام ورکړي او حتی له دې پورته، تمه کېده چې ټرمپ به هڅه وکړي چې اسلامي امارت ته نږدې شي برعکس، لکه څنګه چې ليدل کيږی ټرمپ د امريکا پر ميلياردونو نړيوالو مرستو (چې افغانستان هم پکې شامل دی) نېوکه وکړه او ويې ځنډولې، د دغه کومکونو ځنډېدل د افغانستان او امريکا ترمنځ د لرې والی احتمال نور هم زياتوي. دا ډول وضعيت ممکن د افغانستان لپاره بدې پايلې ولري، مګر دا د ايران په څير هېوادونو کوم چې د امريکا لومړی نمبر سيمه ييز دښمن دی لپاره خورا ګټور کيدی شي. په بل عبارت، هر څومره چې افغانستان او امريکا له يو بل څخه واټن نيسي، هومره دا د ايران لپاره يو فرصت دی چې کابل ته نږدې شي. که څه هم ايران په هيڅ ډول نشي کولی په افغانستان کې د امريکا ځای ډک کړي، خو داسې وضعيت د ايرانيانو لپاره يو ارزښتناک فرصت رامينځته کړی چې هڅه وکړي افغانستان ته نږدې شي. په حقيقت کې موجوده تشه، يعنې د افغانستان او امريکا ترمنځ واټن، د ايران لپاره د جيوپوليتيک ډالۍ په توګه تعبير کيدی شي. له همدې امله، کابل ته د خپل بهرنيو چارو وزير په ليږلو سره تهران افغان مشرانو ته دا پيغام ورکړ چې ايران کولی شي د پخوا په پرتله د افغانستان اقتصادي ملګرى او همکار پاتې شي.

## لوی اقتصادي شريک

په تېرو وختونو کې په افغانستان کې د امريکا د شتون سره، افغانستان په اړه د ايران نظر ډېر امنيتي و ځکه چې د ايران په ختيځ اړخ کې د هغه هېواد د لومړي نمبر دښمن په توګه د امريکا شتون افغانستان د ايران لپاره ډېر امنيتي کړی و. دې امنيتي چلند په طبيعي ډول د افغانستان په اړه د ايران په تګ لارې اغيزه کړې وه. که څه هم په هغه وخت کې د ايران او افغانستان ترمنځ اقتصادي اړيکې ښه د پرمختګ په حال کې وي، خو ايرانيانو د امريکا د يوې اډې په توګه د افغانستان له خوا خورا ګواښ احساساوه. د اسلامي امارت د بيا راتلو او له افغانستان څخه د امريکا له وتلو سره د افغانستان په اړه د ايران نظر ډېر اقتصادي محور شو. د ايران او افغانستان[4] ترمنځ د اقتصادي سوداګرۍ د زياتوالي سره، د ايران لپاره دوه ډېر ښه فرصتونه برابر

شول، د ایران لپاره لومړی فرصت دادی چې د بل بهرني فکتور له نفوذ پرته به له افغانستان سره خپل اقتصادي تعامل پراخ کړی او د ایران لپاره چې د افغانستان لپاره د اوبو د خلاصو بندرونو او د ځمکې له لارې ترکیې او اروپا ته د لاسرسي وسیله شي. په دې برخه کې دواړو هېوادونو د اقتصادي تعاملاتو د کچې د لوړولو لپاره ډېرې هڅې وکړې، تر دې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د راتلونکې لید په توګه د ۱۰ ملیارد ډالرو سوداګریز افق ترسیم شو. همدارنګه د ایران د بندرونو او د ترکیې او حتی اروپا سره د نښلولو لپاره د ایران د لارې کارولو ته د افغانستان پاملرنه زیاته شوه. له همدې امله، ایرانیانو خپل د بهرنیو چارو وزیر کابل ته واستاوه ترڅو سیاسي اړیکې نورې هم پیاوړې کړي، چې کولی شي د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا لامل شي. په حقیقت کې، کابل ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د زیاتوالي او په اقتصادي اړیکو باندې د هغې د مثبت اغیز په لور یو لوی ګام دی، چې ایران په اوسني وضعیت کې ورته ډېره اړتیا لري.

### د افغانستان اسلامي امارت د اوبو  د مدیریت ډیپلوماسي

د نورو عواملو سره سره، د افغانستان او ایران د اوبو مسله هم له پامه نه شو غورځولی چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر یې کابل ته د سفر لپاره وهڅاوه، ځکه چې اسلامي امارت د افغانستان د سرحدونو څخه بهر بهېدونکو اوبو د مدیریت په پیلولو سره، په ګاونډیو هېوادونو کې خوځښت رامینځته کړی ترڅو د افغانستان سره مذاکراتو لپاره دروازې پرانېزی دا په ځانګړي ډول د افغانستان د ختیځ ګاونډي، ایران په اړه تر ډېره درسته ده. په تېرو دریو کلونو کې، ایرانیانو په مکرر ډول د افغانستان د اوبو پر پالیسیو نیوکه کړې او د اسلامي امارت د اوبو د مدیریت ډول یې د دوی لپاره ننګونکی بللې دی. که څه هم اسلامي امارت د افغانستان د بهېدونکو اوبو څخه د ګاونډیو هېوادونو د اوبو حق په رسمیت پېژني او تل یې ټینګار کړی چې د اسلامي امارت د اوبو د مدیریت ډول د افغانستان د سرحدونو څخه د اوبو د سرچینو د اجازې په حدودو کې دی، خو دې موضوع د ایرانیانو ترمنځ اندیښنه راپارولې ده او ممکن د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې تر ډېر امنیتي کړي. له همدې امله د دې موضوع د زیاتېدونکي اهمیت او د دې داډ په پام کې نیولو سره چې اسلامي امارت به هغه هېواد ته د اوبو اړین حق ورکوی، ایراني لوري خپل د بهرنیو چارو وزیر د نورو مشورو لپاره کابل ته واستاوه. لکه څنګه چې ولیدل شول وروسته له لدې چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر تهران ته ورستون شو، هغه تر ټولو مهمه موضوع چې اشاره یې ورته وکړه د افغانستان په بهېدونکو اوبو کې د ایران حق وباله او د ایران د حقونو د ورکړې په اړه یې د افغانستان له خوا خوشبیني څرګنده کړه.

### د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو راتلونکې لپاره فرصتونه

افغانستان ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر سفر، علاوه له ټول موضوعاتو، د ایران په بهرني سیاست کې د افغانستان دریځ منعکسوي. البته که موږ اوسني حالات وراضافه کړو، دا سفر کولای شي د دواړو هېوادونو



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ترمنځ په اړیکو کې یو مهم بدلون راولی. هغه فرصتونه چې د ایران او افغانستان د اړیکو پراختیا دواړو خواوو ته رامینځته کیږي دا دي چې دواړه هېوادونه کولی شي په اقتصادي کچه یو بل بشپړ کړي. افغانستان ارزانه محصولاتو ته اړتیا لري او ایران د خپلو تولید شویو توکو لپاره بازار ته اړتیا لري. افغانستان کولی شي د بحري لارو سره د نښلولو لپاره د ایران لاره وکاروي او ایران کولی شي د افغانستان له لارې مرکزي آسیا او حتی چین سره وصل شي. افغانستان کولی شي د ایران له اقتصادي تجربو څخه د کوچنیو صنعتونو د پراختیا لپاره کار واخلي او ایران کولی شي د افغانستان د کانونو په صنعت کې د ګډون له لارې خپلې بهرنۍ پانګونې زیاتې کړي. د اقتصادي مسایلو سربیره، اسلامي امارت کولی شي له هغه وضعیت څخه چې رامینځته شوی، یعنې د ایران لخوا د پام وړ کېدو څخه ګټه پورته کړي، ترڅو د امریکا په وړاندې د مختلفو معاملو کولو ځواک زیات کړي.

که څه هم د افغانستان لپاره داسې فرصتونه شته چې له ایران سره خپل تعامل زیات کړي، خو له ایران سره ډېر تعامل او اړیکې د افغانستان لپاره زیانمونکې کېدای شي. لکه څنګه چې لیدل کیدی شي، د سوداګرۍ پراختیا په برخه کې د افغانستان څخه د ایران تمې تقریبا یو اړخیزې دي. ایرانیان ډېر لیواله دي چې افغانستان ته صادرات وکړي، په داسې حال کې چې دوی لږ لیواله دي چې خپل بازارونه د افغان محصولاتو لپاره خلاص وساتي. دا ویل کیدی شي چې د سوداګریزو اړیکو پراختیا تقریبا یو اړخیزه ده، او که دا وضعیت دوام ومومي، افغانستان به په ایراني محصولاتو باندې ډېر متکي شي، چې دا د افغانستان اقتصاد ته زیان رسولی شي. بله مسله دا ده چې د ایران سره د افغانستان د اړیکو زیاتېدل ممکن د افغانستان په وړاندې د امریکا غوسه زیاته کړي. که متحده ایالات له افغانستان سره اړیکه ولری یا نه، خو دغه هېواد د افغانستان وضعیت له نږدې څاري. افغانستان د یو کمزوري او زیان لیدونکي هېواد په توګه، باید د ایران سره د نږدې ملګرتیا له امله د متحده ایالاتو په څیر یو لوی ځواک د ځان په وړاندې ونه پاروي. افغانستان کولی شي له ایران سره ښې اړیکې ولري، خو اړتیا لري چې له دغه هېواد سره په اړیکو کې توازن وساتي.

**پایله**

د اسلامي امارت له بیا راتګ وروسته، د ایران او افغانستان اړیکې د پخوا په څېر پاتې شوې. سربېره پردې، په تېرو دریو کلونو کې، دواړو خواوو هڅه کړې چې اړیکې ښې پیاوړې کړي او د اقتصادي تعاملاتو د زیاتوالي لپاره د یو بل له متقابل ظرفیتونو څخه ګټه پورته کړي. په دې وروستیو کې، ایران هڅه کړې چې کابل ته د خپل بهرنیو چارو وزیر په لېږلو له کابل سره خپلې اړیکې ښې کړي. د ایران د بهرنیو چارو وزیر کابل ته سفر په اوسني تاریخي پړاو کې، چې نړیوال او سیمه ایز شرایط د بدلون په درشل کې دي، په متحده ایالاتو کې د ډونالډ ټرمپ د واک ته رسېدو سره، د ځانګړو اهدافو او هڅونو سره ترسره شو، چې ترټولو مهم یې د بندیزونو د سختېدو په صورت کې له افغانستان سره د اړیکو زیاتول دي. سربېره پردې، کابل ته د ایران



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د بهرنیو چارو وزیر سفر کې نورې مسلې لکه اوبه او ایران د افغانستان یو له سترو سوداګریزو شریکانو په توګه بدلیدلی شی. په دې توګه، کابل ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر له سفر څخه دوه پایلې ترلاسه کیدی شي. لومړی، دا سفر ښیي چې د اسلامي امارت تر اداري لاندې افغانستان د ایران لپاره ډېر مهم دی او دا هېواد هڅه کوي چې ځان اسلامي امارت ته نږدې کړي. افغانستان په دې تاریخي پړاو کې د ایران لپاره په سیاسي او اقتصادي لحاظ د یو ښه ملګري په توګه معرفي کیدی شي. په منځنۍ ختیځ کې د کلونو لویو پانګونو وروسته، ایران په هغه سیمه کې له ستراتیژیکې ماتې سره مخ شوی او اړ شوی چې افغانستان ته ډېره پاملرنه وکړي. په بل عبارت، دا ویل کیدی شي چې افغانستان د ایران په بهرني سیاست کې لوړ مقام ترلاسه کړی دی، په ځانګړي توګه که چیرې د ټرمپ پالیسۍ د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ واټن نور هم زیات کړي، ایران به هڅه وکړي ترڅو افغانستان د خپل سیمه ییزو شریکانو او همکارانو په محور کې شامل کړي، همدا هڅه ده چې د بهرنیو چارو وزیر یې کابل ته راغی. حتی د ایران د بهرنیو چارو وزیر، د کابل سره د تهران د اړیکو د لوړې کچې دوستۍ او ژوروالي د ښودلو لپاره، د عام وګړو په څیر کابل ښار کې وګرځېد او د ښار په یوه رستورانت کې یې ډوډۍ وخوړه. البته، د ایران د بهرنیو چارو وزیر دا اقدام هم کېدای شي یو ډېر ښه او مشهور اعلان وي چې د اسلامي امارت تر اداري لاندې په افغانستان کې وضعیت او امنیت ښه وښایي. دوهمه پایله دا ده چې تمه کیږي چې ایران به د امریکا د نورو بندیزونو سره مخ شي، په سیاسي لحاظ به ډیر منزوي شي، او په اقتصادي لحاظ به ډیر کمزوری شي. له همدې امله، کابل ته د خپل بهرنیو چارو وزیر په لیږلو سره، تهران هڅه کړې چې وښيي چې ایران لاهم فعاله ډیپلوماسي لري او هغومره منزوي نه دی لکه څنګه چې فکر کیږي. سره له دې ټولو، اسلامي امارت باید له ایران سره په خپلو اړیکو کې اړین احتیاط وکړي، په ځانګړې توګه هغو ملاحظاتو ته په پام سره چې پدې برخه کې شتون لري.

## وړاندیزونه

د پورته ذکر شویو مسلو په پام کې نیولو سره، لاندې وړاندیزونه کیدی شي:

۱. د افغانستان اسلامي امارت باید له افغانستان سره د اړیکو پراختیا کې د ایران لیوالتیا ته په پام سره هڅه وکړي چې له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي ترڅو د هېواد اقتصادي وضعیت په مناسب ډول ښه کړي.

۲. اسلامي امارت باید له نورو هېوادونو سره په ځانګړې توګه له ګاونډیانو سره د تعامل په سیاست کې توازن وساتي او اجازه ورنه کړي چې افغانستان د وسیلې په توګه وکارول شي.

۳. د ایران لپاره د اوبو حیاتي ارزښت ته په پام سره، اسلامي امارت ته وړاندیز کیږي چې د اوبو د ډیپلوماسۍ په کارولو سره له ایران څخه ډیر اقتصادي امتیازات ترلاسه کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## سرچینی

[1]. سفر معاون نخست وزیر طالبان به تهران به دعوت رسمی جمهوری اسلامی. تاریخ نشر 1402/8/13 قابل دسترسی:
https://www.bbc.com/persian/articles/ce9p1gyzx46o

[2]. افزایش تحریم‌ها و مقابله با توسعه اقتصادی ایران در دستور کار ترامپ است تاریخ نشر 1403/9/10 قابل دسترسی:
https://atna.atu.ac.ir/fa/news/305769%افزایش-تحریم‌ها-و-مقابله-با-توسعه-اقتصادی-ایران-در-دستور-کار-ترامپ-E2%80%8C/است

[3]. پزشکیان و پوتین توافق جامع راهبردی ایران و روسیه را در کرملین امضا کردند. تاریخ نشر 1430/10/28 قابل دسترسی:
https://www.bbc.com/persian/articles/crkeejzm55jo

[4]. تجارت میان افغانستان و ایران سال پار میلادی ۸۴ درصد افزایش داشت. تاریخ نشر 1403/10/28 قابل دسترسی:
https://tolonews.com/fa/business-192648

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000